د جمهوري رياست د چارو ادارې لوي رياست

د مطبوعاتو او عامه پوهاوي رياست

# سلما بند

(د افغان ـ هند د دوستۍ بند)

معلومات - تاريخچه - ګټې

غبرګولې - 1395

د انرژۍ په برخه کې ځان بسنه، د پايداره پراختيا پر لور ځواکمن ګام



## مخینه

ټاکل شوې تر راتلونکو ورځو د افغانستان او هند مشران په یو لړ رسمي مراسمو سره له سلما بند (افغان ـ هند ددوستی بند) څخه عملي ګټه اخیستنه پیل کړي . د سلما بند د هرات ولایت په چشت شریف ولسوالی کې د سلما له کلي څخه دوه کیلو متره لیرې موقعیت لري . په بل عبارت: د یادې پروژې ساحه د هرات ښار له ختیځ لوري (۱۷٦) کیلو متره لیرې پرته ده. دا بند د هریرود پر سیند جوړ شوی دی . او د دې سیند بې ګټې بهېدونکو اوبو ته یو نسبي نظم ور ښښي. تمه ده چې د چشت شریف، اوبه، پښتون‌زرغون، ګذره ولسوالیو، او د انجیل ولسوالی تر یوې برخې (د هاشمي پله تر ساحې پورې) به د سلما بند د اوبو په ذریعه خړوبې شي. د (۱۳۹۴) لمریز کال د زمري په میاشت کې د سلما بند ساختماني چارې له (۴۵ کالو انتظار  وروسته بشپړې شوې او د اوبو زېرمه کولو مرحله یې پیل شوه .

### د سلما بند (د افغان ــ هند د دوستی بند) په اړه کمي معلومات :








- ــ د سلما بند (۱۰۷،۵) متره لوړوالی او (۵۵۰) متره اوږدوالی لري.
- ــ د سلما بند د اوبو کاسه یا ذخیره د (٦۴۰) میلیون متر مکعبه اوبو ظرفیت لري .
- ــ سلما بند د هندوستان له بلاعوضه مرستو څخه د (۲۹۰) میلیونه ډالرو په لګښت جوړ شوی.
- ــ د سلما بند د دستبند په ښکتنی برخه کې د (۸۰) زره هکتاره کرنیزې ځمکې خړوبولو لري .
- ــ د سلما بند د خپلو درېیو توربینونو له لارې د (۴۲) میګاواټه برښنا د تولید ظرفیت لري . په بل عبارت د دې بند هر توربین (۱۴) میګا واټه برښنا تولیدوي .
- ــ له سلما بند څخه تر نورجهاد سټېشن پورې د برښنا (۵۳۳) پایې لګول شوې دي.
- ــ د اوس له پاره د سلما بند دوه توربینونه فعال او ګټې اخیستنې ته چمتو دي او ټاکل شوې درېیم توربین تر (۱۵) ورځو پورې فعال شي .
- ــ د بند شاته د اوبو د زېرمې ساحه (Catchment Area) د (۱۱۷۰۰) کیلو متر مربع په شاوخوا کې ده .
- ــ همدا اوس د سلما بند په کاسه کې (۴٦۰) میلیون متر مکعبه اوبه ذخیره شوې دي . او له دوو میاشتو را

په‌دېخوا په یوه ثانیه کې د (۲۰۰) متر مکعبه اوبو په کچه د زراعتي ځمکو خړوبولو لپاره د بند له دروازې څخه خوشې شوې دي .

- د اوبو او انرژۍ وزارت له هندي چارواکو سره په تفاهم د هېواد (۳۰) تنو انجنیرانو ته د ( افغان ــ هند د دوستۍ بند) سپارلو ته تیار کړی دی.
- د افغان انجنیرانو لومړنۍ (۱۰) کسیزه ډله څه موده مخکې د اوبو او انرژۍ وزارت له‌خوا استخدام او د برښنا شرکت له انجنیرانو سره د حرفوي زده‌کړو لپاره هندوستان ته ولېږل شول. همدارنګه د انجنیرانو دوې نورې ډلې به هم ډېر ژر استخدام او د بندونو د حفظ او مراقبت په اړه به د تخصصي زده کړو لپاره هندوستان ته ولېږل شي .



## د افغان ــ هند د دوستۍ بند تاریخچه:

پر هریرود لومړنۍ تخنیکي څېړنې د ملګرو ملتو د زراعت او خوړو سازمان له‌خوا په (۱۳۳۹) لمریز کال کې پیل شوې او د سلما بند په محور کې اوږدې تخنیکي څېړنې د (۱۳۵۱) لمریز کال په سر کې پیل شوې چې عملي کار یې په (۱۳۵۱) لمریز کال کې پیل شو. د هغه وخت د پلان پر اساس ټاکل شوې وه چې د سلما بند عملي کار په (۱۳۵۰) لمریز کال کې بشپړ او په (۱۳۶۱) لمریز کال کې ګټې اخیستنې ته چمتو شي؛ خو د نیمګړتیاوو له امله تر (۱۳۶۰) لمریز کال وروسته دغه کار ونه‌شو.

په (۱۳۵۱) لمریز کال کې د پروژې د لومړنۍ برخې جوړولو لګښت نږدې (۷۴) میلیونه ډالره اټکل شو، له‌دې څخه (۵۵) ملیون ډالره د سعودي عربستان په پور او پاتې یې د افغانستان د دولت له بودجې څخه په پام کې ونیول شوې . چې (۲۷) میلیونه ډالره یې د کار تر درېدلو وړاندې مصرف شوې وې، د یادولو ده چې د بودجې پاتې برخه یعنې (۲۸) میلیونه ډالره یې افغان لوري ته ور نه‌کړل شول . د انرژۍ او اوبو وزارت د معلوماتو پر اساس د هندوستان د هېواد د واپکوس کمپنۍ د (افغان ــ هند د دوستي بند) د لومړۍ مرحلې لومړني او څېړنیز کارونه تر سره کړي دي. هغه لومړي کارونه چې د (۱۳۵۱) څخه تر (۱۳۵۷) لمریز کال پورې تر سره شول د څېړنیزو امکاناتو سنجول، جیولوجي، هایدرولوجي، د توپوګرافۍ سروې او د پروژې ځینې لومړني ډیزاینونه دي. له بلې خوا هغه ساختماني کارونه چې د (۱۳۵۵) او (۱۳۵۷) لمریزو کالو ترمنځ تر سره شوي، له هرات څخه تر چشت شریف پورې د (۱۷۴) کیلو متره اوږد سړک ترمیمول، د بند په ساحه کې د (۷۴) رهایشي کورونو جوړول، د (۸،۵) مترو په قطر او (۶۳۰) مترو په اوږدوالي د انحرافي کانال جوړول او همدارنګه د بنسټ د ځینو برخو له کیندنې څخه عبارت دي .

په (۱۳۸۴) لمریزکال کې د افغانستان او هندوستان تر منځ یو هوکړه لیک لاسلیک شو چې د هغې پر بنسټ د افغان ـ هند د دوستۍ بند جوړولو لګښت د هندوستان د بلا عوضه مرستو څخه تمویلیږي. د پروژې مشورتي او نظارتي برخه د هندي ایکوس کمپنۍ په واسطه ، او د هغه ساختماني او برښنایي برخې د انجلیک، ssjv او bhel کمپنیو لهخوا پر مخ وړل کېدلې .
د افغان ـ هند د دوستۍ بند جوړول په (۲۰۰٦) زیږدیز کال کې له سره پیل شول او د لومړنیو محاسبو پر بنسټ باید تر (۲۰۰۹) زیږدیز کال پورې پای ته رسېدلی وای؛ خو د پانګې اچونې په اړه په شاوخوا کې د بدلونونو، د شرکتونو ستونزو او د هندوستان لوژیستیکي ستونزو او همدا راز د هرات او پروژې د ساحې تر منځ د پاخه سړک نه شتون د یاد بند جوړولو کار له ځنډ سره مخ کړ.





## د سلما بند گټې:

شـبکې تـه (۴۲) مېـگا واټـه برېښـنا تزریــق کېږي.

- ــــ د اوبــو د ډاډمنــي او تل‌پاتــې سر چینــې خوندیتــوب د (۳۵۰۰۰) هکټاره ځمکــې خړوبولو لپاره چــې پخــوا پــه غیــر منظمــه توگــه خړوبېدلې.
- ـ د کرنې وړ(۴۵۰۰۰) هکتــاره ځمکو اوبول چې همــدا اوس د اوبو له نشــتوالي شــاړې پاتې دي .
- ـ شــاوخوا (۴۰۰۰۰) کورنۍ به د ســلمان بند له تولید شــوې برېښــنا څخــه گټــه پورتــه کړي.
- ـ شــاوخوا (۵۰۰۰) بزگر به د سلما بند له زېرمو شــویو اوبو څخه د خپلــو ځمکو خړوبولــو لپاره گټه پورتــه کوي.
- ــــ (۴۰ ) ســلنه زراعتي ځمکې د افغــان ـ هند دوســتۍ بنــد په ښــکتنۍ برخه کــې خړوبېږي چې دا بــه پــه محــلي کرنیــزه پراختیا کې یو ســتر بدلون، دوامــداره کاري بوختیــاوې ، او د بزگــرو په عاید کې زیاتوالی راولي.
- ـ د هغو هیبتناکو ســېلاوونو مخه به پرې ډېر شي چــې هــر کال د زراعتي ځمکــو د تخریبولو لامل کېــږي او پــه ځینو پېښــو کې خــو بیا ځــاني تلفات هم رامنځتــه کوي.
- ـ د ســیند پــه اوږدو کې د زراعتــي ځمکو او کلیــو پــه تخریــب کــې کموالــی راځــي.
- ــــ د یاد بنــد د چاپېریــالي اغېزو پــه پایله کې پــه لاندنیو ســیمو کې د ســیند ســور کمېږي چې دغه چاره د ســیند په شــاوخوا کې د شــنې سیمې رامنځتــه کېدو تــه زمینــه برابروي.
- ـ د یوې مــلي پروژې پــه توگه له ســلما بند گټــه پورته کــول کولای شي پــه هېواد کــې پانگه اچونې تــه گټه ورســوي او اقتصادي متشــبثین په هېــواد کــې د را تلونکې پانگې اچونې ته خوشــبینه کړي .







له سلما بند څخه ګټه پورته کول د عطف د نقطې په توګه د افغانستان د هغو اوبو د کنټرول سبب ګرځې چې له سرحدونو ور هاخوا بهېږي. زموږ د هېواد د روانو اوبو ذخیر وي ظرفیت په کال کې (۵۵) میلیارډه متر مکعب دی. چې په کابو کولو او اغېزمن مدیریت سره کولای شي د زراعتي سکتور وده پرې چټکه کړي او افغانستان د انرژۍ خپلواکۍ ته پرې ورسوي . د ملي وحدت حکومت سیمه‌ییزو حساسیتونو ته په پام او ددې ستر پو تنسیل په سم درک کولو سره د اوبو د اشتراکي مدیریت په اړه منځمهال او اوږد مهال پلانونه د هېواد د څپانده اوبو د مهارکولو لپاره طرح کړي دي. په اوس وخت کې د (۲۱) لویو او منځنیو بندونو جوړلو په هدف پر طرحو کار روان دی څو په منځمهال کې د دې خاورې متعهد ولس وکولای شي د هېواد د روانو اوبو یوه برخه مهار او کنټرول کړي.

